لوړو زده کړو وزارت

التقوي د لوړو زده کړو مؤسسه


حقوق او سیاسي علومو پوهنځي

حقوقي علومو څانګه

# د حقوقي علومو څانګې ستراتیژیک پلان

۱۴۰۲ ـ ۱۴۰۴

لمریز کال


بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرست

**د حقوقي علومو ځانګې د امر پیغام** ... 1
**د ستراتیژیک پلان د جوړولو مراحل** ... 2
**لومړي فصل: عمومي مسایل** ... 3
**(د ځانګې پیژندنه، لرلید، ماموریت، موخې او ارزښتونه)** ... 3
**د ځانګې پېژندنه:** ... 3
**د حقوقي علومو ځانګې ستراتیژیکې موخې:** ... 4
په ځانګه کې د استادانو د څیړنیزو فعالیتونو انکشاف. ... 4
د علمي کنفرانسونو، ورکشاپونو، سیمینارونو او علمي سیرونو وده انکشاف. ... 5
د ځانګې د عملي زده کړو د پرمختیا لپاره د مختلفو تطبیقي مرکزونو ایجادول. ... 5
په کتابتون کې د حقوقي علومو د ځانګې د کتابونو غني کول. ... 5
د استادانو دایمي تقرر ... 5
د معیاري تکنالوژي تطبیق ... 5
د عواید د مختلفو کانالونو ایجاد. ... 5
د ځانګې د فارغو محصلینو سره د روابطو منظم میکانیزم رامنځته کول. ... 5
په ټولنه کې ونډه اخیستل. ... 5
**دوهم فصل: د داخلي او بهرني محیطي عواملو تحلیل** ... 6
**د خارجي (بهرنیو) عواملو تحلیل** ... 7
د ځانګې د محصلینو لپاره ټاکل شوي فیس د ټولنې د اقتصادي وضعیت سره برابر دي ... 8
د حقوقي علومو د ځانګې د حقوقي، قضایي او عدلي نهادونو همکاري. ... 8
د ځانګې تحصیلي نصاب د ټولنې د اړتیاو سره برابر دي. ... 8
د ځانګې فارغ محصلین په کاري او عملي برخو کې کامیاب دي. ... 8
اوسنی امنیتي وضعیت د ځانګې د زده کړه ایزو فعالیتونو لپاره مناسب دی. ... 8
ځانګه د خپلو عملي برنامو په وړاندې کولو سره په ټولنه کې مثبت رول ادا کوي. ... 8
د هیواد د حقوقي نظام تغیر او تبدیل ... 8
د تحصیلي بنسټونو ترمنځ غیر مناسب رقابت ... 8
د هیواد اوسنی ضعیف اقتصادي وضعیت ... 8
د ځوان کهول لخوا د هېواد پرېښودل ... 8
**د ځانګې د ستراتیژیو ټاکنه** ... 9
د داخلي او بهرنیو عواملو پرتله او نهایي نمرې ... 9
د داخلي او بهرنیو عواملو نهایي نمرې Matrix External & Internal ... 9

**دريم فصل** ........ 13
پنځه ګوني برخي........ 13
لومړي برخه (علمي څيرني) ........ 13
۱ : (هدف لرونکي پلان جوړونه )........ 13
۲: ( د څيرني د لارښود جوړونه او ترتيب ) :........ 13
۳ : ( د کتابتون بډايه کول):........ 13
۴: (دورکشاپونو داېرول): ........ 13
۵ :( د استادانو او زده کړيالانو د څيرنيزو مهارتونو او ظرفيتونو لوړونه )........ 13
۶: (درقابتي فضاء ايجاد)........ 13
۷ :(څارنه او ارزونه ) ........ 13
دوهمه برخه : د ټولني په پرمختيا کي ونډه اخيستنه........ 14
۱: حقوقي کلينيک ........ 14
۲: د حقوقي مرستو د څانګي رامنځ ته کول........ 14
دريمه برخه : (دعوايدو ترلاسه کول) ........ 14
الف : ( د زده کړيالانو د سمسترو‌ارفيس څخه عوايد )........ 14
ب : (له حقوقي کلينيک څخه دعوايدو ترلاسه کول)........ 14
ج : (له علمي څيرنو څخه د عوايدو ترلاسه کول) ........ 14
۲- د حقوقي پوهاوي د برنامو رامنځ ته کول ........ 15
ب: د کارکوونکو ونډه: ........ 15
ج: د محصلينو ونډه: ........ 15
د: د محصلينو ملاتړ او لوړو زده کړو ته د هغوي لاسرسي:........ 15
څلورمه برخه : د هوکړه ليکونو او نړيوالو اړيکو رامنځته کول ........ 15
**پنځمه برخه : له تکنالوژۍ څخه استفاده** ........ 17
**د بوديجې ټاکنه**........ 22
**د حقوقي علومو څانګې لومړيتوبونه** ........ 26
**د ستراتېژۍ اجرا**........ 26
**د استراتېژۍ ارزيابي** ........ 27

## د حقوقي علومو ځانګې د امر پیغام :



هغه ټولنې، چې خلک یې قانون ته ځان ژمن بولي د ګډوډیو څخه خوندي او خلک یې د خوشحاله ژوند څښتنان دي. د یوې هوسا ټولنې د رامنځته کېدو لپاره اړینه ده، چې قوانین د ټولنې سمو عرفونو، د ټولنې د خلکو دین، مذهب، اقتصادي حالت او ټولنیزو ارزښتونو ته په پام سره وضع شي، تر څو د قانون تطبیق آسانه او خلک یې د زړه له تله ومني. مقنن باید د قانون د تدوین پر مهال له توپیري چلند څخه په کلکه ډډه وکړي؛ ځکه چې توپیري چلند په ټولنه کې د حاکم نظام پر وړاندې د غبرګون لامل ګرځي. همدارنګه قضـــات هم باید د پرېکړو پر مهال له عدالته کار واخلي، د جرم او جزاء تر منځ تناسب، د مجرم رواني او اقتصادي حالت او جرمي سابقه په پام کې ونیسي، که چیرته یاد ټکي له پامه وغورځوي، نو د قضایي سیستم پر وړاندې د خلکو بې باوري رامنځته کېږي، چې دغه حالت د ټولنې په زیان دي. د دې لپاره چې ټولنې ته په حقوقي برخه کې مســـلکي، متخصـــص او ژمن کادرونه وړاندې شـــي، د حقوقو او ســـیاســـي علومو پوهنځي په اډانه کې د حقوقي علومو ځانګه رامنځته شوي ده، تر څو د هیواد اړتیا مرفوع شي. په عدلي او قضایي برخو کې د مسلکي کادرونو د روزنې په پار د حقوقي علومو ځانګې د ماسترۍ او دوکتورا په کچه پېژندل شوي استادان ګمارلي دي، تر څو د هیواد عدلي او قضایي سیستم ته په اسلامي او ملي روحیه سمبال مسلکي ځوانان وروزي. د زده کړیالانو د علمي سویې د لوړولو لپاره د مجربو او مسـلکي اسـتادانو پر مټ علمي سـیمینارونه وړاندې کوي او همدارنګه د محصـلینو د مهارتونو د لوړولو لپاره حقوقي کلینیک هم خپل مکلفیت په ښـه شـکل ترسـره کوي. د حقوقي علومو ځانګه د حقوقواو سـیاسـي علومو پوهنځي او مؤسـسـې په مرسـته د ټولو ښـکېلو خواوو سره هوکړه لیکونه لاسلیکوي، تر څو خپلو زده کړیالانو ته د عملي کار زمینه برابره کړي.

د حقوقي علومو ځانګې په اډانه کې د ټولو کارکوونکو تر منځ ښـه همغږي شـتون لري او د آمریت او رهبرۍ تر منځ ښې همغږۍ د دې ځانګې د محصلینو په درسي بهیر او ظرفیت لوړونه کې اغېزمنه ونډه لرلې ده.

په پاي کې په ټوله هېوادنۍ او مسـلکي مینه ژمنه کوم، چې په حقوقي برخه کې به ژمن، متخصـص، مسـلکي او په اسـلامي او ملي روحیه سـمبال ځوانان وړاندې کړو او په دې برخه کې به د عدلي او قضـایي بسـنټونو اړتیا تر یوې کچې پوره کړو.

درنښت

عزت الله عزیز

د حقوقي علومو ځانګې آمر

# د حقوقي علومو ځانګې لپاره ستراتیژیک پلان چوکاټ

## د ستراتیژیک پلان د جوړولو مراحل

مقدمه: د حقوقي علومو د ځانګې لنډه پېژندنه، فعالیتونه او پخوانی ستراتېژیاني

د ځانګې د لیدلوري، د ماموریت ، د ارزښتونو، د ستراتېژیکو موخو ټاکل

د محیطي عواملو مطالعه او د لوړو زده کړو موسسې د ستراتېژیکو پروګرامونو لومړیتوبونه او شاخصونه

د جوړښت مرحله

چاپیریالي عوامل (داخلي او بهرني ) پیاوړتیاوې کمزورتیاوې، فرصتونه او ننګونې.

دلوړو زده کړوموسسې لومړیتوبونه: حکومتولي، علمي او اکاډمیک فعالیتونه، زیربناوې، لوړوزده کړو ته لاس رسی
پنځه ګوني شاخصونه: څېړنه، عوایده،ټکنالوژي، نړیوال فعالیتونه او په ټولنه کې د پوهنځي

د ممکنه ستراتېژیانو ټاکنه:
د ستراتېژیانود لومړیتوب ټاکنه:
د ستراتېژیک لومړیتوب ټاکنه:
د لنډمهاله موخو ټاکنه:

د اجرا
مرحله

دفعالت،د بودیجې جوړونه، مالي پروګرامونه،دخطراتو مدیریت د ځانګې لپاره درهبری دطریقې ټاکنه ، د ځانګې د رهبری سبک ټاکنه، د منابعو تخصیص اجرایوي پالیسیو جوړول

د ارزونې
مرحله

**د ستراتیژیکو پروګرامونو څارنه او ارزونه**

# لومړي فصل: عمومي مسایل

## (د څانګې پېژندنه، لرلید، ماموریت، موخې او ارزښتونه)

### د څانګې پېژندنه:

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د دې موسسې له تاسیس سره یو ځاي په ۱۳۹۰ کال کې ایجاد شوي او په ۱۳۹۱ کال یې په فعالیت پیل کړي دي چې په خپل چوکاټ کې له لومړۍ ورځې دوه (قضاءاو څارنوالي او اداره او دیپلوماسي) څانګې لري، چې اوسمهال د نوي تحصلیي نصاب مطابق (حقوقي علومو او د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو) په څانګو بدلي شوي ،د حقوقي علومو څانګه  د وخت او ټولني اړتیاوو ته په کتو، د هېواد د حقوقي، عدلي او قضایي اورګانونو لپاره متخصص، عملي او کاري کادرونه روزي او ټولني ته یې وړاندې کړي.


د حقوقي علومو څانګه څانګړي لرلید او ماموریت لري، چې ددې څانګې  اصلي مسیر ټاکي او په خپل ټول توان ورته ژمن دي.


### د حقوقي علومو څانګې د استادانو احصایه:

د حقوقي علوموڅانګې د (۱۴۰۲) تحصیلي کال د استادانو شمېرنه ( احصایه)

| شمېره | پوهنځی | څانګې | بالمقطع | | | | | | ټول | دایمي | | | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | | | ښځینه | | | | نارینه | | | |
| | | | داکتر | ماستر | لیسانس | داکتر | ماستر | لیسانس | | داکتر | ماستر | لیسانس | |
| ١ | حقوقي علومو څانګه | | 0 | 5 | 0 | | 0 | | 5 | 2 | ٩ | 0 | ١١ |
| | | | | | | | | | | | | | |

د حقوقو علومو څانګې د برحالو او فارغو محصلینو احصایه :





## د حقوقي علومو ځانګې ارزښتونه:

- ✓ د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د مشرتابه تر رهبرۍ لاندې، د حقوقي علومو ځانګه په خپله هره اړونده برخه کې د لاندې ارزښتونو په پام کې نیولو سره په پرله پسې توګه علمي او اداري خدمات وړاندې کوي:
- ✓ نافذه قوانینو په رڼا کې د ملي حاکمیت او ملي ګټو ساتنه او ورته بشپړ درناوي.
- ✓ په روزنیز علمي چاپیریال کې اسلامي او ملي آندونو ته درناوي او بشپړه پاملرنه.
- ✓ د بېلابېلو علمي او ټولنیزو پروګرامونو پر مټ د ټولنې پرمختګ کې د خپلې دوامدارې ونډې ساتل.
- ✓ په تحصیلي او اداري بهیر کې د عدالت او برابرۍ، ګډون او متقابل احترام اصولو رعایت.
- ✓ په تحصیلي او اداري چارو کې صداقت او رښتینولي.
- ✓ په تحصیلي، اداري او نورو چارو کې متقابل درناوي.
- ✓ اخلاق، وړتیا او شایسته سالاري په ټولو چارو کې په نظر کې نیول.
- ✓ د وخت او مارکیټ د غوښتني په اساس د نوي درسي میتودونو تطبیق.
- ✓ غوره درسي سیستم او د ټولنې د اړتیاوو سره سم د تحصیلي نصاب چمتوکول.

## د حقوقي علومو ځانګې لرلید :

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري چې د معیاري تدریس او علمي څېړنو په وړاندې کولو سره په حقوقي برخه کې کادرونه وروزي ترڅو هېواد او سیمې ته د باور وړ علمي بنسټ په توګه وپیژندل شي.

## د حقوقي علومو ځانګې ماموریت :

د حقوقي علومو ځانګه د ټولنې اړتیاوو ته په پام په حقوقي برخو کې کادرونه روزي او ټولنې ته یې د چوپړ لپاره وړاندې کوي.

## د حقوقي علومو ځانګې ستراتیژیکې موخې:

### په ځانګه کې د استادانو د څېړنیزو فعالیتونو انکشاف.

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري چې د علمي څېړنو د ودې او انکشاف لپاره د ځانګې د استادانو لپاره د علمي څیړنو د ترسره کولو لپاره د سهولتونو برابرول او ددې طریقه د علمي څېړنو د نشر او چاپ په برخه کې د استادانو او محصلینو ظرفیت لوړونې لپاره عملي ګامونه واخلي.

**د علمي کنفرانسونو، ورکشاپونو، سیمینارونو او علمي سیرونو وده او**

### د علمي کنفرانسونو، ورکشاپونو، سیمینارونو او علمي سیرونو وده انکشاف.

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري چې د استادانو، اداري کارکوونکو او محصلینو لپاره علمي کنفرانسونه، سمینارونه او علمي سیرونه په لار واچوي.

### د ځانګې د عملي زده کړو د پرمختیا لپاره د مختلفو تطبیقي مرکزونو ایجادول.

د حقوقي علومو ځانګې په پام کې لري چې د عملي زده کړو د پرمختیا لپاره د حقوقي کلینیک ترڅنګ مختلف تطبیقي مرکزونه ایجاد کړي  تر څو محصلینو ته د عملي زده کړو زمینه برابره شي.

### په کتابتون کې د حقوقي علومو د ځانګې د کتابونو غني کول.

د حقوقي علومو ځانګې په پام کې لري چې د تحصیلي نصاب په مطابقت او د ځانګې اړوند کتابونه د محصلینو د استفادې په موخه په کتابون کې غني کړي.

### د استادانو دایمي تقرر

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري چې  ددې ځانګې د استادانو د دایمي او رسمي تقرر چاري بشپړ کړي.

### د معیاري تکنالوژي تطبیق

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري، چې د ټولنې علمي ضرورتونو په نظر کې نیولو سره د محصلینو او استادانو د علمي ظرفیت لوړونې لپاره  د معیاري تکنالوژي څخه ګټه واخلي.

### د عواید د مختلفو کانالونو ایجاد.

د حقوقي علومو ځانګه د مختلفو تطبیقي مراکزو او د څیړنیزو فعالیتونو له لارې د عواید مختلف کانالونه ایجادوي.

### د ځانګې د فارغو محصلینو سره د روابطو منظم میکانیزم رامنځته کول.

د حقوقي علومو ځانګه د خپلو فارغانو محصلینو سره د منظمو روابطو درلودلو لپاره مناسب میکانیزم رامنځته کوي.

### په ټولنه کې ونډه اخیستل.

د حقوقي علومو ځانګه د بیلا بیلو برنامو په وړاندې کولو سره د ټولنې د ستونزو د حل په موخه ونډه اخلي.

## دوهم فصل: د داخلي او بهرني محيطي عواملو تحليل

| د امتياز نمرې | امتياز | وزن | فرصتونه | s/n |
|---|---|---|---|---|
| Key external factors Evaluation د داخلي عواملو تحليل | | | | |
| 0.16 | 4 | 0.04 | د ځانګي فعالیتونه د تقنیني اسنادو پر مټ پر مخ ځي | 1 |
| 0.09 | 3 | 0.03 | ځانګه په کافي اندازه مسلکي علمي کادر غړي لري. | 2 |
| 0.09 | 3 | 0.03 | ځانګه مجهز حقوقي کلینیک لري. | 3 |
| 0.12 | 3 | 0.04 | د ځانګي تدریسي خوني معیاري او په عصري وسایلو سمبال دي | 4 |
| 0.12 | 4 | 0.03 | د ځانګي ډیټابیس معیاري دي. | 5 |
| 0.12 | 3 | 0.04 | ځانګه د بریښنایي زده کړو په برخه کي معیاري خدمات وړاندي کوي. | 6 |
| 0.12 | 3 | 0.04 | ځانګه د څیړني په برخه کي لازم امکانات لري. | 7 |
| 0.2 | 4 | 0.05 | ځانګه مناسبي عملي برنامي په لاره اچوي. | 8 |
| 0.09 | 3 | 0.03 | د ځانګي اړوند کارکوونکي خپل مکلفیت په خپل وخت سره ترسره کوي. | 9 |
| 0.12 | 4 | 0.03 | ځانګه د محصلینو د علمي ظرفیت لوړوني لپاره علمي سیمینارونه وړاندي کوي. | 10 |
| | | 0 | **ننګوني** | |
| 0.2 | 3 | 0.1 | ځانګه په نړیواله کچه هوکړه لیکونه نه لري. | 1 |
| 0.12 | 3 | 0.04 | ځانګي د علمي کادر غړو او اداري کارکوونکي ته علمي سیرونه نه دي برابر کړي. | 2 |
| 0.12 | 4 | 0.05 | ځانګه په ملي کچه هوکړه لیکونه نه لري | 3 |
| 0.09 | 3 | 0.03 | ځانګه د فیس پرته نور عایداتي کانالونه نه لري. | 4 |
| 0.3 | 3 | 0.2 | په کتابتون کي د ځانګي اړوند کتابونه په کافي اندازي سره شتون نه لري. | 5 |
| 0.06 | 4 | 0.03 | په ځانګه کي د محصل، استاد او اداري کارکوونکو ترمنځ تناسب په نظر کي نه دي نیول شوي. | 6 |
| 0.6 | 3 | 0.05 | ځانګه د بیړني حالاتو د کنترول لپاره ځانګړي بودیجه نه لري. | 7 |
| 0.1 | 2 | 0.05 | د ځانګي علمي کادر غړي په نړیواله کچه په کافي اندازي سره څیړني نه ترسره کوي. | 8 |
| 0.18 | 2 | 0.06 | ځانګه د محصلینو شمیر ته په کتو مناسب بریښنایي کتابتو ن نه لري. | 9 |
| 0.2 | 4 | 0.03 | د ځانګي استادان علمي رتبي نه لري. | 10 |
| 3.2 | | 1 | Total | |

## د خارجي ( بهرنيو)عواملو تحليل

| Key external factors Evaluation د خارجي عواملو تحليل | | | | |
|---|---|---|---|---|
| s/n | فرصتونه | وزن | امتياز | د امتياز نمرې |
| 1 | ځانګي د خپلو عملي برنامو په وړاندې کولو سره په پوهنتون کي مثبت رول ادا کړي دي. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| 2 | د ځانګي فارغ محصلين په کاري او عملي برخه کي کامياب دي | 0.06 | 4 | 0.24 |
| 3 | د محصلينو لپاره ټاکل شوي فيس د پوهنتون د اقتصادي شرايطو سره برابر دي. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| 4 | ځانګه په پوهنتون کي ونډه لري. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| 5 | د هيواد امنيتي وضعيت د ځانګي اړوند زده کړه ييزو فعاليتونو لپاره مناسب دي. | 0.09 | 4 | 0.36 |
| 6 | د ځانګي نشراتي سيستم معياري دي. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| 7 | د ځانګي درسي چاپيريال د محصلينو په جذب کي مرسته کوي. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| 8 | د ځانګي تحصيلي نصاب د پوهنتون د اړتياو سره برابر دي. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| 9 | | | | |
| 10 | | | | |
| | ننګوني | 0 | | |
| 1 | د ځانګي سره د حقوقي او عدلي نهادونو د همکارۍ کچه کمه ده. | 0.06 | 3 | 0.18 |
| 2 | د ځانګي اړوند کاري فرصتونو نشتون د محصلينو د جذب مثبته انګيزه زيانمنه کړې. | 0.08 | 4 | 0.32 |
| 3 | د نجونو د تحصيل تعليق په ځانګه کي د محصلينو جذب کم کړي دي. | 0.06 | 3 | 0.18 |
| 4 | د ځانګي په اړه حاکم عامه ذهنيت د محصلينو جذب کم کړي دي. | 0.09 | 4 | 0.36 |
| 5 | د ځانګي اړوند د موجوده کاري فرصتونو په هکله د خلکو د پوهي کچه کمه ده. | 0.1 | 2 | 0.2 |
| 6 | د پوهنتونونو او تحصيلي مؤسسو ترمنځ غير مناسب رقابت د محصلينو جذب اغيزمن کړي دي. | 0.09 | 3 | 0.27 |
| 7 | په هيواد کي د حقوقي نظام تغيير په ځانګه کي د محصلينو جذب کم کړي دي. | 0.07 | 3 | 0.21 |
| 8 | د ځوان کهول لخوا د هيواد پريښودل په ځانګه د محصلينو جذب کم کړي دي. | 0.08 | 3 | 0.24 |
| 9 | | | | |
| 10 | | | | |
| Total | | 1 | | 3.33 |

## د خارجي عواملو د تحلیل په موخه لازمه ده ، چې فرصتونه او ننګوني په ګوته کړو او په پایله کې د (QSPM) پر بنسټ د ستراتیژیو لومړیتوب وټاکو.

**فرصتونه**

### د ځانګې د محصلینو لپاره ټاکل شوي فیس د ټولنې د اقتصادي وضعیت سره برابر دي.

د حقوقي علومو ځانګې د محصلینو لپاره د ټولنې د اقتصادي وضعیت په نظر کې نیولو سره فیس ټاکل شوي.

### د حقوقي علومو د ځانګې د حقوقي ، قضایي او عدلي نهادونو همکاري.

د حقوقي علومو ځانګه د حقوقي،قضایي او عدلي نهادونو سره منظمو تواميتونو او هوکړه ليکونو په درلودلو سره د هغوی همکاري او د محصلینو د ظرفیت لوړوني لپاره د عملي فعالیتونو فرصت برابر کړي.

### د ځانګې تحصیلي نصاب د ټولنې د اړتیاو سره برابر دي.

د حقوقي علومو ځانګې تحصیلي نصاب د ټولنې د اړتیاوو سره سم ترتیب شوي او په دوامداره ډول سره د لا غوروالي لپاره منظم ډول ارزیابي کیږي.

### د ځانګې فارغ محصلین په کاري او عملي برخو کې کامیاب دي.

د حقوقي علومو ځانګې فارغ محصلین په خپلو کاري ساحو کې کامیاب او د اداراتو ضرورتونو ته رسیده ګي کولاي شي.

### اوسنی امنيتي وضعیت د ځانګې د زده کړه ایزو فعالیتونو لپاره مناسب دي.

په هیواد کې اوسني امنيتي وضعیت د ځانګې د زده ایزو فعالیتونو لپاره مناسب دي.

### ځانګه د خپلو عملي برنامو په وړاندې کولو سره په ټولنه کې مثبت رول ادا کوي.

د حقوقي علومو ځانګه د مختلفو علمي برنامو ، کنفرانسونو او سیمینارونو پر مټ په ټولنه کې مثبت رول ادا کړي او د ټولنې باور يې تر لاسه کړي.

**ننګونې**

### د هیواد د حقوقي نظام تغیر او تبدیل

د هیواد د حقوقي نظام تغیر او تبدیل په ځانګه کې دمحصلینو پر جذب منفي تاثیرات درلودلي چې لامله يې د ځانګې تدریسي او عملي فعالیتونه ټکني کړي دي.

### د تحصیلي بنسټونو ترمنځ غیر مناسب رقابت

په تحصیلي برخه کې د پوهنتونونو او تحصیلي مؤسساتو ترمنځ غیر مناسب رقابت د حقوقي علومو په ځانګه کې د محصلینو پر جذب منفي تاثیرات لرلي.

### د هیواد اوسنی ضعیف اقتصادي وضعیت

په هېواد کې د اوسني ضعیف اقتصادي وضعیت له امله له يوې خوا د لوړو زده کړو سره د ځوانانو لیوالتیا کمه شوې او له بلې خوا د ځانګې اړوند پرمختایي علمي فعالیتونه هم زیانمن شوي.

### د ځوان کهول لخوا د هېواد پریښودل


د ځوانانو لخوا د هېواد پریښودل ددې سبب شوي، چې د حقوقي علومو ځانګه د محصلینو په جذب کې د ستونزو سره مخ شي.

## د څانګې د ستراتیژیو ټاکنه

د دې لپاره ، چې د (QSPM) پر اساس د ستراتیژیو لومړیتوب وټاکل شي، نو د لوړو زده کړو وزارت د سراتېژیک پلان د ملي برنامي له خوا ، چې کوم موارد ټاکل شوي، په لاندې ډول يې په لنډه توګه یادونه کوو.

### د داخلي او بهرنیو عواملو پرتله او نهایي نمرې

### د داخلي او بهرنیو عواملو نهایي نمرې Matrix External & Internal



# SWOT analysis

| د کمزورتیا ټکي | | | د پیاوړتیا ټکي |
|---|---|---|---|
| w1 | د ځانګې استادان علمي رتبې نه لري. | S 1 | د ځانګې فعالیتونه د تقنیني اسنادو پر مټ پر مخ ځي |
| w2 | په کتابتون کې د ځانګې اړوند کتابونه په کافي اندازې سره شتون نه لري. | S 2 | ځانګه په کافي اندازه مسلکي علمي کادر غړي لري. |
| w3 | ځانګه په ملي کچه هوکړه لیکونه نه لري | S 3 | ځانګه د تفریح او سپورت لپاره مناسب ځاي لري |
| w4 | ځانګه په نړیواله کچه هوکړه لیکونه نه لري. | S 4 | د ځانګې تدریسي خوني معیاري او په عصري وسایلو سمبال دي |
| w5 | ځانګه د فیس پرته نور عایداتي کانالونه نه لري. | S 5 | د ځانګې ډیټابیس معیاري دي. |
| w6 | په ځانګه کې د محصل، استاد او اداري کارکوونکو ترمنځ تناسب په نظر کې نه دي نیول شوي. | S 6 | ځانګه د بریښنایي زده کړو په برخه کې معیاري خدمات وړاندې کوي. |
| w7 | ځانګه د بیړني حالاتو د کنترول لپاره ځانګړي بودیجه نه لري. | S 7 | ځانګه د څیړنې په برخه کې لازم امکانات لري. |
| w8 | ځانګې د علمي کادر غړو او اداري کارکوونکي ته علمي سیرونه نه دي برابر کړي. | S 8 | ځانګه مناسبې عملي برنامې په لاره اچوي. |
| w9 | ځانګه د محصلینو شمیر ته په کتو مناسب بریښنایي کتابتو ن نه لري. | S 9 | د ځانګې اړوند کارکوونکي خپل مکلفیت په خپل وخت سره ترسره کوي. |
| w 10 | د ځانګې علمي کادر غړي په نړیواله کچه په کافي اندازې سره څیړنې نه ترسره کوي. | S1 0 | ځانګه د محصلینو د علمي ظرفیت لوړوني لپاره علمي سیمینارونه وړاندې کوي. |

| | ننګونې | | فرصتونه |
|---|---|---|---|
| T1 | د ځانګړې سره د حقوقي نهادونو د همکارۍ کچه کمه ده. | O1 | د ځانګړې تحصیلي نصاب د ټولنې د اړتیاو سره برابر دي. |
| T2 | د ځانګړې اړوند د موجوده کاري فرصتونو په هکله د خلکو د پوهې کچه کمه ده. | O2 | د ځانګړې فارغ محصلین په کاري او عملي برخه کې کامیاب دي |
| T3 | د نجونو د تحصیل تعلیق په ځانګه کې د محصلینو جذب کم کړي دي. | O3 | ځانګړې د خپلو عملي برنامو په وړاندې کولو سره په ټولنه کې مثبت رول ادا کړي دي. |
| T4 | په هېواد کې د حقوقي نظام تغییر په ځانګه کې د محصلینو جذب کم کړي دي. | O4 | ځانګه په ټولنه کې ونډه لري. |
| T5 | د ځانګړې په اړه حاکم عامه ذهنیت د محصلینو جذب کم کړي دي. | O5 | د هېواد امنیتي وضعیت د ځانګړې اړوند زده کړه ییزو فعالیتونو لپاره مناسب دي. |
| T6 | د پوهنتونونو او تحصیلي مؤسسو ترمنځ غیر مناسب رقابت د محصلینو جذب اغیزمن کړي دي. | O6 | د محصلینو لپاره ټاکل شوي فیس د ټولنې د اقتصادي شرایطو سره برابر دي. |
| T7 | د ځانګړې اړوند کاري فرصتونو نشتون د محصلینو د جذب مثبته انګیزه زیانمنه کړې. | O7 | د ځانګړې درسي چاپیریال د محصلینو په جذب کې مرسته کوي. |
| T8 | د ځوان کهول لخوا د هېواد پرېښودل په ځانګه د محصلینو جذب کم کړي دي. | O8 | د ځانګړې نشراتي سیستم معیاري دي. |

# SWOT Analysis

| | | Internal Factors | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | Strength- s | | Weakness - W | |
| External Factors | Opportunitie s -o | تهاجمي ستراتيژي | | محافظه کار ستراتيژي | |
| | | د S1,S8,s10 په مرسته کولاي شو له O1 څخه استفاد وکړو | ۱ | مونږ د خپل تحليل په ترڅ کې پايله تر لاسه کړه چې O2 څخه په استفاده د W3 تشه ډکه کړو. | ۱ |
| | | د S10,S4,S6,S8 په مرسته کولاي شو له O2 څخه استفاده وکړو | ۲ | مونږ د خپل تحليل په ترڅ کې پايله تر لاسه کړه چې O1 څخه په استفاده د W10 تشه ډکه کړو. | ۲ |
| | | د S5,S7,S9 په مرسته کولاي شو له O7 څخه استفاد وکړو. | ۳ | مونږ د خپل تحليل په ترڅ کې پايله ترلاسه کړه چې O5 څخه په استفاده د W7 تشه ډکه کړو | ۳ |
| | | د S3,S10,S8 په مرسته کولاي شو له O4 څخه استفاده وکړو. | ۴ | | |
| | Threats -t | رقابتي ستراتيژي | | دفاعي ستراتيژي | |
| | | مونږ د خپل تحليل په ترڅ کې پايله تر لاسه کړه چې S2 څخه په استفاده د T2 تشه ډکه کړو. | ۱ | مونږ د خپل تحليل په ترڅ کې پايله ترلاسه کړه چې W10 څخه په استفاده د T5 تشه ډکه کړو | ۱ |
| | | مونږ د خپل تحليل په ترڅ کې پايله تر لاسه کړه چې S7 څخه په استفاده د T8 تشه ډکه کړو. | ۲ | مونږ د خپل تحليل په ترڅ کې پايله ترلاسه کړه چې W7 څخه په استفاده د T6 او T2 تشه ډکه کړو | ۲ |
| | | مونږ د خپل تحليل په ترڅ کې پايله تر لاسه کړه چې S1 څخه په استفاده د T1 تشه ډکه کړو. | ۳ | مونږ د خپل تحليل په ترڅ کې پايله ترلاسه کړه چې W4 څخه په استفاده د T5 تشه ډکه کړو | ۳ |

## دریم فصل

### پنځه ګونې برخې

### لومړۍ برخه (علمي څېړنې)

د حقوقي علومو ځانګې په علمي څېړنو کې د زده کړیالانو علمي مقالې او مونوګرافونه شامل دي.
په تېرو دريو کلونو کې ځانګې د استادانو د ظرفیت په تناسب ، څېړنيز فعالیتونه نسبتاً ښه ترسره کړې دي، په نظر کې ده چې په راتلونکو پنځه کلونو کې د علمي څېړنو لړۍ جدي شـــي، د اســـتادانو او زده کړیالانو د څېړنیزو فعالیتونو په برخه کې هدفمندي او د ټولنې په پرمختګ کې يې اغيز په نظرکې نیول کېږي، د همدې په پار د يو پیاوړې مدیر او د لوړ رتبه اسـتادانو ټاکنه په یاده کمیټه کې د غړو په حیث ، سره د ټولو تجهیزاتو په نظرکې نیول شوي دي.

#### ۱ : (هدف لرونکي پلان جوړونه )

په دې برخه کې د پرمختګ لپاره، د قیق او هدف لرونکي پلان ته چې په هغې کې هدفونه او څېړنيز فرصتونه معلوم وي ترڅو د استادانو او زده کړیالانو څېړنیز فعالیتونه دهدفمندۍ او د ټولنې دپرمختګ لپاره اغیزمن وي، اړتيا ده.

#### ۲: ( د څېړنې د لارښود جوړونه او ترتیب ) :

د حقوقي علومو ځانګه د لوړو زده کړو لرونکو اســـتادانو څخه په اســـتعفادې د معیاري علمي څېړنو لپاره چې څوک غواړې څېړنې وکړي، یو لارښود جوړ او ترتیبوي.

#### ۳ : ( د کتابتون بډایه کول):

لکه څرنګه چې د څېړنو لپاره معیاري او په کافي توګه معلوماتو ته اړتيا ده ، په همدې اساس د حقوقي علومو ځانګه د علمي څېړنو په خاطر اســـتادانواو زده کړیالانو ته خپل کتابتون لا بډایه کوي او هڅه کوي ترڅو نوي او نوم وتي کتابونه خپل کتابتون ته وپېري.

#### ۴: (دورکشاپونو داېرول):

د حقوقي علومو ځانګه د علمي څېړنو معیاري کولو، د اســـتادانو او زده کړیالانو د ظرفیت لوړوني په خاطر ورکشـــاپونه او د څېړنو د ترســـره کولو د لارو په برخه کې ســـیمینارونه ،علمي کادرونو او زده کړیالانو ته داېروي.

#### ۵ :( د استادانو او زده کړیالانو د څېړنیزو مهارتونو او ظرفیتونو لوړونه )

هر کال لنډمهاله زده کړه ایز کورســـونه د استادانو او زده کړیالانو د څېړنیزو مهارتونو او ظرفیتونو د لوړوني لپاره داېرېږي ، د غه برنامې د زده کړیالانو لپاره د حقوقي کلینیک په چوکاټ کې دايرېږي.

#### ۶: (درقابتي فضاء ایجاد)

د اســـتادانواو زده کړیالانو د تشـــویق او هڅوني پخاطر ترڅو غوره څېړنيز فعالیتونه ترســـره شـــي، د ځانګې په کچه رقابتي فضـــاء ایجاد شـــوې ، هر کال د ترســـره شـــوو علمي څېړنیزو آثارو څخه د کال غوره آثر ټاکل کېږي او پدې توګه د نوموړې علمي آثر څېرونکي تقدير ېږي.

#### ۷ :(څارنه او ارزونه )

پوهنځي د استادانو او زده کړیالانو د څېړنیزو فعالیتونو څخه د څارنې او ارزونې پروسه پیاوړې کړې ، هرکال د استادانو له فعالیتونو ارزونه کوي.

## دوهمه برخه : د ټولنې په پرمختیا کې ونډه اخیستنه

د حقوقي علومو ځانګه د ټولنې د پرمختیا په برخه کې فعاله ونډه لري او ددې هدف د ترلاســـه کولو لپاره لاندې پروګرامونه په نظر کې لري.

### ۱: حقوقي کلینیک

د حقوقي علومو ځانګه د خپلو محصـلینو د علمي او مسـلکي مهارتونو د پیاوړتیا لپاره د حقوقي کلنیک فعالیت کوي،

د حقوقي علومو ځانګه په دې مرکز کې د ښکیلو اړخونو څخه یو دې او د خپلو محصلینو د عملي کار او په ټولنـه کې د دوې د فعالې ونډې په پام کې نیولو ســـره په راتلونکي پنځو کلونو کې د حقوقي کلینکونو د پروکرامونو د پیاوړتیا په خاطر لاندې پروګرامونه پلې کوي.

### ۲: د حقوقي مرستو د ځانګې رامنځ ته کول

د کلینیک د فعالیتونو د پراختیا او د ټولنې په پرمختګ کې یې د ونډې اخیسـتنې په موخه په پام کې لري چې د عدلي ریاســـت ســـره په تفاهم او همکارۍ د ټولنې د بې وزلو خلکو لپاره د حقوقي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د حقوقي مرستو ځانګه فعاله کړي.

## دریمه برخه : (دعوایدو ترلاسه کول)

د حقوقي علومو ځانګه د هغو خدمتونو په اسـاس چې د هیواد ښـاغلو زده کړیالانو ته یې وړاندې کوې نو پدې توګه ویلې شـــو چې د خدمتونو د وړاندې کولو د امله دلاندې برخو څخه کولای شـــي عواید ترلاسه کړي.

۱: د سمستر وار فیس څخه ترلاسه شوي عواید

۴:د علمي څیړنو د ترسره کولو له لارې ترلاسه شوي عواید

۵: د حقوقي کلینیک د فعالیتونو څخه ترلاسه شوي عواید

### الف : ( د زده کړیالانو د سمسټروارفیس څخه عواید )

د حقوقي علومو ځانګه په شـپېنۍ او ورځنۍ برخو کې فعالیت لري، چې له زده کړیالانو څخه د فیس د اخیستلو په اساس عواید ترلاسه کوي.

### ب : (له حقوقي کلینیک څخه دعوایدو ترلاسه کول)

دا چې د حقوقي علومو ځانګه د حقوقي کلینیک لرونکي ده، نو پدې اســـاس په راتلونکو کلونو کې د امکان په صورت کې د دفاع وکالت ، د حقوقي مشوره ورکونې ، د حقوقي اسنادو د ترتیب او جوړونې په برخوکې د فعالیتونو د اجراء او ترسره کولو له لارې عواید ترلاسه کوي.

### ج : (له علمي څیړنو څخه د عوایدو ترلاسه کول)

د علمي څیړنو ترسـره کول د نړۍ په علمي مؤسـسـاتو کې معمول ده، په داسـې حال کې چې زموږ په ګران هیواد کې دې برخې ته چندان پام ندې شوې او یا هم علمي مؤسساتو کې پدې برخه کې استادانو او زده کړیالانو ته مناسب فرصتونه په اختیار کې ندي ورکړل شوي ، د حقوقي علومو ځانګه د حقوقو او سـیاسـي علومو پوهنځي په چوکاټ کې متعهد دې چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره خپلو اسـتادانو او زده کړیالانو ته ټول سهولتونه او امکانات په اختیار کې ورکوي ترڅو د مؤسسې ،پوهنځي او د حقوقي علومو ځانګه ته یوه عایداتي منبع شي. پدې برخه کې د حقوقي علومو ځانګه د استادانو او زده کړیالانو د هڅونې پخاطر او د هغوی ترمینځ د رقابت لپاره د مجلو په خپرولو سـره عواید ترلاسـه کوي، چې اوس مهال التقوی د لوړو زده کړو مؤسسه خپله علمي مجله خپراوي او له دې لارې عاید ترلاسه کوي.

## ۲- د حقوقي پوهاوي د برنامو رامنځ ته کول

د کلينيک د فعاليتونو د پراختيا او د ټولنې د پياوړتيا په خاطر، د دې پروګرام په رامنځ ته کولو سره به د مختلفو ټولګيو لکه د ليسې زده کوونکو، ديني مدرسو، پوهنتونونو، ښوونکو او عامو خلکو ته د اړتيا وړ بېلابېلو موضـــوعاتو په اړه حقوقي پوهاوي ورکول کېږي. ددې پروګرام له لارې له يوې خوا زده کوونکي د ټولنيزو خدمتونو په وړاندې کولو کې برخه اخلي او له بلې خوا د ټولنې بېلابېلې برخې له خپلو حقونو او مکلفيتونو خبرېږي او ټولنه د سوله ييز ژوند او متقابل احترام پر لور حرکت کوي.

## ب: د کارکوونکو ونډه:

علمي او اداري کارمندان د امکان تر حده په خپلو فعاليتونو بوخت دي ترڅو په ســـيمه ايز او ملي پرمختګ کې خپله ونډه ونـــيسي. د حقوقي علومو ځانګه د دې پروګرامونو د پلي کولو لپاره لاندې ميکانيزم په پام کې لري، چې عبارت دي له:

د ملي او نړيوالو ورځو د لمانځلو لپاره د پروګرامونو پلي کول

د ټولنې د پرمختګ په خاطر په راډيوي او تلويزيوني پروګرامونو کې د استادانو ګډون

په کنفرانسونو کې د استادانو او کارکوونکو ګډون

د اړونده تحصيلي ادارو سره د ځانګې څخه بهر د سيمينارونو چمتو کول.

## ج: د محصلينو ونډه:

زده کوونکي د ټولنې په پرمختګ کې د دوی د ونډې څخه خبر دي او هڅول کېږي چې د ټولنې په پرمختګ کې ونډه واخلي. د حقوقي علومو ځانګې د ټولنې په پرمختګ کې د محصـــلينو د ونډې لپاره لاندې ميکانيزم چمتو کړي دي.

د عامه پوهاوي د پياوړتيا په خاطر د علمي سيمينارونو وړاندې کول.

د ټولنې سره په اړيکه کې د محصلينود ګروپي څېړنو وړاندې کول او د هغې پايلې خپرول.

د محصلينو د رشتې يا ځانګې مطابق د هغوی د علمي کارونو هڅول.

## د: د محصلينو ملاتړ او لوړو زده کړو ته د هغوی لاسرسي:

د حقوقي علومو ځانګه د هېواد د نوي نسل د پياوړتيا او خوځښت په موخه د خپلو علمي او ښـوونيزو خدمتونو په وړاندې کولو سره اغېزناکه او ګټوره اداره ده او همدارنګه د ځوان نسل د هوسايني لپاره د ظرفيتونو د لوړولو او پرمختګ لپاره زمينه برابروي. د حقوقي علومو ځانګې ته په کار ده، چې د پورتنيو موخو د ترلاسه کولو لپاره د ښښتن تعالي په مرسته اغېزمن او ارزښتناک ګامونه پورته کړي، تر څو په پايله کې د لوړو او علمي برياوو شاهدان واوسو.

## څلورمه برخه : د هوکړه ليکونو او نړيوالو اړيکو رامنځته کول

علمي او عملي تواميتونه د تجربو شريکولو، ظرفيتونو لوړولو او مرستو په جلب کې د پوهنتونونو سره ډېره مرسته کولی شي، نو ځکه د حقوقي علومو ځانګه بايد د پلان د تطبيق پر مهال له ګڼو پوهنتونونو او علمي څېړنيزو ارګانونو ســــره په ملي او نړيواله کچه هوکړه ليکونه رامنځته کړي او له دې لارې نړيوالې اړيکې غښتلې کړي، يعني که څه هم د موسسې په کچه ګڼ هوکړه ليکونه لاسليک شوي دي ولې له بده مرغه تر اوسه پورې د حقوقي علومو ځانګه په خپلواکه توګه د هوکړه ليکونو په لاسليکولو او نړيوالو اړيکو جوړولو کې ښـــکيل نه ده، نو د دې لپاره ، چې په راتلونکې کې د حقوقي علومو ځانګې په دې برخه کې خپل رول يقيني کړي بايد لاندې چارو ته پاملرنه ډېره شي.

د ځانګې په کچه د بهرنیو اړیکو او مرستو جذب د کمېټې ایجاد.
د ځانګې له خوا د شته هوکړه لیکونو د مؤثریت څېړل.
د ځانګې له خوا د نویو هوکړه لیکونو د اړتیا سنجول.
د هوکړه لیکونو د رامنځته کېدو په برخه کې د ځانګې او د مرکزي کمېټې ترمنځ هماهنګي او مساعدت.

## پنځمه برخه : له تکنالوژۍ څخه استفاده

1. په ځانګه کې د الکترونيکي زده کړو کميټه نه ده ايجاد شوې. مګر په کمپيټرونو، د ال سي ډي تلويزيون، انټرنيټ ته محدود لاسرسي او نورو وسايلو په برخه کې د برېښنايي زده کړو سمباله تدريسي خونه لري چې د ويډيوي کنفرانس د وسايلو په چمتوکولو سره کيدلی شي د برېښنايي زده کړو په توګه د يو مجهزې تدريسي خوني استفاده ترينه وشي.
2. دا چې د التقوا د لوړو زده کړو موسسې په خپل پنځه کلن پلان کې د انلاين زده کړو برنامه د موخي په توګه نه ده ټاکلي، نو د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د حقوقي علومو ځانګې هم ابتدايي برېښنايي زده کړو ته لاره هواره کړي ده او ددي پلان د موخو څخه يي ګرځولي دي او په دي برخه کې لاندي فعاليتونه سرته رسوي.
3. د کنفرانسونو او برېښنايي صنفونو د دايرولو لپاره د ويډيوي کنفرانس په وسايلو سمباله خونه،
4. د انلاين زده کړو د روش سره د استادانو د اشنا کولو په موخه د کورسونو دايرول
5. استادانو او محصلينو ته د هغه لارو چارو پيژندنه چې تکنالوژۍ او برېښنايي وسايل پکې کارول کيږي.
6. د نورو پوهنتونو سره د علمي قراردادونو او همکاريو څخه په استفادې د برېښنايي صنفونو دايرول
7. د برېښنايي زده کړو او تکنالوژۍ د پيژندني په موخه او د تکنالوژکي مهارتونو څخه د استفادي په پار استادانو او محصلينو ته د کورسونو دايرول
8. د استادانو او محصلينو ته د معتبرو ويب سايټونو او برېښنايي کتابتونونو پيژندل.

افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

پلان، پالیسی او تقنین ریاست

امارت اسلامي افغانستان

وزارت تحصیلات عالي

ریاست پلان، پالیسي و تقنین

التقوي د لوړو زده کړو مؤسسه

حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي

سحقوقي علومو څانګه

## د پایلو پر بنسټ د ستراتیژیک پلان پنځه کلن ( ۱۴۰۲-۱۴۰۴ ) عملیاتي پلان پلان اداره ( د حقوقي علومو څانګه )

| شمېره | اصلي موخې | مقاصد ( عمده فعالیتونه) | لومړیتوب درجه | اړتیا ور سرچینې | شاخص | کال په اوږدو کې د موخې فیصدي یا اندازه | فعالیت د تطبیق موده | فعالیت پیل نېټه | فعالیت پای نېټه | تحویلي نېټه | ربعي په اوږدو کې د پلان شویو فعالیتونو فیصدي او یا د موخې اندازه | | | | اړتیا ور بودیجه | | بودیجې د اړتیا دلایل او د مصارفو شرحه | اجراء مسؤل | همکاري اداري | متوقعه پایلې | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | ربع۱ | ربع۲ | ربع۳ | ربع۴ | عادي (افغانی) | انکشافي (افغانی) | | | | | |
| ۱ | په کتابتون کې د کتابونو کمښت | په کتابتون کې باید د څانګې اړوند (۲۵۰) کتابونه زیات شي | الف درجه | مالي او فریکي | تعداد د کتابونو | | دری کاله | ۹/۱۴۰۲ | ۱۱/۱۴۰۴ | ۱۲/۱۴۰۴ | | | | | | ۵۰۰۰۰ | د کتابونو اخیستل | څانګه | کتابتون | معیاري کتابتون | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | محصلینو، استاد او اداري کارکوونکو ترمنځ تناسب | د محصلینو، استاد او اداري کارکوونکو ترمنځ تناسب برابروالي | **الف درجه** | **مالي او بشري** | **فیصدي** | | **دری کاله** | **۱۰/۱۴۰۲** | **۱۱/۱۴۰۴** | **۱۲/۱۴۰۴** | | | | | | | استادانو استخدام | **څانګه** | **استادانو چارو امریت** | **د تناسب برابروال** | |
| ۳ | د استادانو علمي رتبې | د استادانو علمي رتبو تر لاسه کولو لپاره علمي اقدام کول | **الف درجه** | د اړونده اداري همکار ي | فیصدي | | **دری کاله** | **۹/۱۴۰۲** | **۹/۱۴۰۳** | **۱۰/۱۴۰۳** | | | | | | ۲۰۰۰۰ | اړونده مصارف | **څانګه** | **استادانو چارو امریت** | د علمي رتبو تر لاسه کول | |
| ۴ | د بیړنیو حالاتو لپاره ځانګړې بودیجه | د ځانګې لپاره د بیړنیو حالاتو ځانګړې بودیجې برابرول | ب درجه | مالي | فیصدي | | **دری کاله** | **۱۰/۱۴۰۲** | **۱۱/۱۴۰۴** | **۱۲/۱۴۰۴** | | | | | | ۵/۰۰% | ځانګړو حالاتو مدیریت | **څانګه** | **مالي او اداري** | د ځانګړې بودیجې لرل | |
| ۵ | ملي او نړیوال هوکړه لیکونه | د ځانګې په کچه د ملي او نړیوالو (۱۰) هوکړه لیکونو برابرول | ب درجه | مالي او بشري | تعداد | | **دری کاله** | **۱۰/۱۴۰۲** | **۱۱/۱۴۰۴** | **۱۲/۱۴۰۴** | | | | | | ۲۰۰۰۰ | اړونده مصارف | **څانګه** | **بهرنیو اړیکو کمیټه** | د علمي همکار یو د هوکړه لیکونو لرل | |
| ۶ | د عاید سرچینه | د ځانګې په کچه له فیس پرته د نورو عایداتي سرچینو برابرول | ج درجه | مالي، بشري او فزیکي | د فیس اندازه | | **دری کاله** | **۱۰/۱۴۰۲** | **۱۱/۱۴۰۴** | **۱۲/۱۴۰۴** | | | | | | | | **څانګه** | **مالي او اداري** | د موسسې د عاید زیاتوالي | |
| ۷ | علمي سیرونه | د ځانګې استادانو او محصلینو لپاره د (۵)علمي سیرونو برابرول | ب درجه | مالي، بشري او فزیکي | تعداد | | **دری کاله** | **۱۰/۱۴۰۲** | **۱۱/۱۴۰۴** | **۱۲/۱۴۰۴** | | | | | | ۱۰۰۰۰۰ | ټرانسپورټ او نور مصارف | **څانګه** | **مالي او اداري** | ظرفیت لوړونه | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | د څېړنو ترسره کول | د ځانګې علمي کادر غړي باید په نړیواله کچه (۵) څېړنې ترسره کړي | الف درجه | مالي او بشري | تعداد | | دری کاله | ۹/۱۴۰۲ | ۱۱/۱۴۰۴ | ۱۲/۱۴۰۴ | | | | | | ۱۰۰۰۰۰ | څېړنې او نشر | **ځانګه** | **څېړنو کمېټه** | ظرفیت لوړونه | |
| ۹ | بریښنایي کتابتون | د ځانګې د محصلینو د شمېر په تناسب د بریښنایي کتابتون برابرول | ب درجه | مالي او فزیکي | فیصدي | | دری کاله | ۱۰/۱۴۰۲ | ۱۱/۱۴۰۴ | ۱۲/۱۴۰۴ | | | | | | ۲۰۰۰۰ | کمپیوټرونه او انټرنیټ | **ځانګه** | **کتابتون** | معیاري بریښناي ي کتابتون | |
| ۱۰ | له ځانګې او د حقوقینهادونو همکاري | له ځانګې سره د دحقوقي نهادونو همکاري زیانوالي لپاره د عملي اقدام کول | ب درجه | مالي او بشري | تعداد | | دری کاله | ۹/۱۴۰۲ | ۱۱/۱۴۰۴ | ۱۲/۱۴۰۴ | | | | | | ۱۰۰۰۰ | ترانسپورټ او نور مصارف | **ځانګه** | **بهرنیو اړیکو کمېټه** | ظرفیت لوړونه | |
| ۱۱ | د ځانګې اروند د موجوده کاري فرصتونو په هکله عامه پوهاوي | د ځانګې اړوند د موجوده کاري فرصتونو په هکله محصلینو او د ټولني وګړو ته عامه پوهاوي زمینې برابرول | ب درجه | مالي او بشري | تعداد | | دری کاله | ۱۰/۱۴۰۲ | ۱۱/۱۴۰۴ | ۱۲/۱۴۰۴ | | | | | | ۱۰۰۰۰ | ریفریشمنټ | **ځانګه** | **مسلکي پراختیا مرکز** | عامه پوهاوي | |

|  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |  |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | له هیواد څخه د ځوانانو د فرار مخنیوي | له هیواد څخه د ځوانانو د فرار مخنیوي لپاره د سیمینارونو برابر ول | چ درجه | مالي او بشري | تعداد |  | **دری کاله** | ۱۰/۱۴۰۲ | ۱۱/۱۴۰۴ | ۱۲/۱۴۰۴ |  |  |  |  |  | ۱۰۰۰۰ | ریفریشمنت | **څانګه** | **مسلکي پراختیا مرکز** | عامه پوهاوي |  |
| ۱۳ | تحصیلي نصاب تطبیق | د تحصیلي نصاب له تطبیق څخه دوامداره څارنه | الف درجه | مالي او بشري | فیصدي |  | ۳کاله | ۱۴۰۲ | ۱۱/۱۴۰۴ | ۱۲/۱۴۰۴ |  |  |  |  |  | ۵۰۰۰ | قرطاسیه | **څانګه** | تحصیلي نصاب کمیته | نصاب مؤثر تطبیق |  |
| ۱۴ | دکتورا استادانو استخدام | د دري تنه دکتورا لرونکو استادانو استخدام | الف درجه | مالي او بشري منابع | تعداد |  | ۳کاله | ۱۴۰۲ | ۱۱/۱۴۰۴ | ۱۲/۱۴۰۴ |  |  |  |  |  | ۲۰۰۰،۰۰۰ |  | **څانګه** | استادانو چار امریت | ظرفیت لوړونه |  |

# د بودیجې ټاکنه

| لومړۍ موخه: په ځانګه کې دعلمي څیړنو وده او انکشاف | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | جمله |
|---|---|---|---|---|
| په ملي کچه دعلمي څیړنو خپرول | 20000 | 20000 | 20000 | **100000** |
| په سمیه ایزه او نړیواله کچه د علمي څیړنو خپرول | 30000 | 30000 | 30000 | **150000** |
| **مجموعه** | **50000** | **50000** | **50000** | **350000** |

| دویمه موخه: د علمي کنفرانسونو،ورکشاپونو،سمینارونو او علمي سیرونو وده انکشاف | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | جمله |
|---|---|---|---|---|
| **په ملي کچه د بیلابیلو علمي سفرونو برابرول** | **40000** | **40000** | **40000** | **120000** |
| **ملي او بین المللي کچه د علمي سیمینارونو او ورکشاپونو په لاره اچول** | **40000** | **50000** | **60000** | **150000** |
| **مجموعه** | **80000** | **90000** | **100000** | **270000** |

| دریمه موخه: د ځانګي د عملي زده کړو د پرمختیا لپاره د مختلفو تطبیقي مرکزونو ایجادول | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | جمله |
|---|---|---|---|---|
| **کریمنال تخنیک لابراتوار ایجاد** | **150000** | | | **150000** |
| **مجموعه** | **150000** | | | **150000** |

| **ځلورمه موخه:**<br>**د حقوقي علومو ځانګي اړوند کتابونو په اړه د کتابتون غني کول** | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | جمله |
|---|---|---|---|---|
| د فزیکي کتابونو غني کول<br>د فزیکي کتابونو له اړخه د کتابتون غني کول | **20000** | 10000 | 10000 | **40000** |
| د انلاین کتابونو غني کول | 20000 | 10000 | 10000 | **40000** |
| **مجموعه** | **40000** | **20000** | **20000** | **80000** |

| پنځمه موخه: د استادانو دايمي تقرر | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | جمله |
|---|---|---|---|---|
| د استادانو دايمي تقرر ترسره کول | **10000** | | | **10000** |
| | | | | |
| **مجموعه** | **10000** | | | **10000** |

| شپږمه موخه : د معياري تکنالوژي تطبيق | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | جمله |
|---|---|---|---|---|
| د معياري تکنالوژي په اساس د ټولو تدريسي او څيړنيزو چارو ترسره کول | **40000** | | | **40000** |
| د معياري تکنالوژي په اساس د ټولو اداري چارو ترسره کول | | 8000 | 8000 | **16000** |
| **مجموعه** | **40000** | 8000 | 8000 | **56000** |
| **اوومه موخه: د عوايدو د مختلفو کانالونو ايجاد** | **کال 1402** | **کال 1403** | **کال 1404** | **جمله** |
| د عملي زده کړو مشوره ورکوني د مراکزو ايجاد | 100000 | 100000 | 100000 | **300000** |
| | | | | |
| **مجموعه** | 100000 | 100000 | 100000 | **300000** |
| **اتمه موخه: د څانګې د فارغو محصلينو سره د روابطو منظم ميکانيزم رامنځته کول** | **کال 1402** | **کال 1403** | **کال 1404** | **جمله** |
| د څانګې د فارغو محصلينو سره د روابطو منظم ميکانيزم رامنځته کول | **5000** | **5000** | **5000** | **15000** |
| **مجموعه** | **5000** | **5000** | **5000** | **15000** |

| نهمه موخه: په تولنه کي ونډه اخيستل | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | جمله |
|---|---|---|---|---|
| د اړينو موضوعاتو په اړه عامه پوهاي | 5000 | 5000 | 5000 | 15000 |
| رقابتي سيالی ترسره کول | 10000 | 10000 | 10000 | 30000 |
| مجموعه | 15000 | 15000 | 15000 | 45000 |

| مجموعي بوديجه | کال 1402 | کال 1403 | کال 1404 | جمله |
|---|---|---|---|---|
| | 490000 | 288000 | 298000 | 1076000 |

# د حقوقي علومو ځانګې لومړیتوبونه

**۱ – د حقوقي علومو ځانګې کتابتون غني کول**

حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري چې په کتابتون کې د تحصیلي نصاب اړوند او د ځانګې د محصلینو لپاره نور لازم کتابونه چمتو او پدې برخه کې د محصلینو لاسرسي ته زمینه برابره کړي.

**۲- د استادانو ظرفیت لوړونه**

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري چې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره علمي کنفرانسونو، ورکشاپونو، سمینارونو او علمي سیرونو ته وده او انکشاف ورکړي.

**۳- د علمي څیړنو وده او انکشاف**

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري چې د علمي څېړنو د ودې او انکشاف لپاره استادانو ته سهولتونه او امکانات رامنځته کړي او ددې طریقه د علمي څېړنو د نشر او چاپ په برخه کې د استادانو او محصلینو ظرفیت لوړونې لپاره عملي ګامونه واخلي.

**۴- د عملي زده کړو بهبود**

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري چې د محصلینو د عملي وړتیاوو د لوړوالي په موخه د حقوقي کلنیک ترڅنګ د عملي زده کړو نور تطبیقي مراکز ایجاد کړي

**۵- د معیاري تکنالوژي تطبیق**

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري، چې د ټولنې علمي ضرورتونو په نظر کې نیولو سره د محصلینو او استادانو د علمي ظرفیت لوړونې لپاره د معیاري تکنالوژي څخه ګټه واخلي.

**۶- د عواید د مختلفو کانالونو ایجاد**

د حقوقي علومو ځانګه ځانګه د مختلفو تطبیقي مراکزو او د څیرنیزو فعالیتونو له لارې د عواید مختلف کانالونه ایجادوي.

**۷- د استادانو دایمي تقرر**

د حقوقي علومو ځانګه په پام کې لري چې ددې ځانګې د استادانو د دایمي او رسمي تقرر چاري بشپړ کړي.

**۸- د ځانګې د فارغو محصلینو سره د روابطو منظم میکانیزم رامنځته کول**

د حقوقي علومو ځانګه د خپلو فارغو محصلینو سره د منظمو اړیکو درلودلو لپاره مناسب منکانیزم رامنځته کوي.

**۹- په ټولنه کې ونډه اخیستل**

د حقوقي علومو ځانګه د بیلابیلو برنامو په وړاندې کولو سره د ټولنې د ستونزو د حل په موخه ونډه اخلي.

# د استراتېژۍ ارزيابي

د سراتیژیک پلان د څارنې او ارزونې کمیسیون له خوا د ستراتیژیو ارزیابي لپاره یو میکانیزم جوړیږي ، چې نوموړي ارزونه په څلورو لاندې پړاوونو کې ترسره کیږي.

1. د اندازه ګیرۍ سنجول او د ستراتیژۍ د ارزونې مبنا رامنځته کول.
2. د انساني عواملو د کړنو سنجول.
3. د انساني قوې پر کړنو باندې تجدید او بیا کتنه.
4. په کال کې یو ځل اصلاحي اقدماتو ترسره کول.

په پورته ډول حقوقي علومو ستراتیژیک پلان د حقوقي علومو څانګې شورا له خوا (۱۴۰۲ / ۶ / ۵ ) نېټې ( ۷ ) نمبر پروتوکول کې تصوئیب شوي.

**عزت الله عزیز**

د حقوقي علومو څانګې آمر

په پورته ډول حقوقي علومو ستراتیژیک پلان د پوهنځي علمي شوري (۱۴۰۲ / ۸ / ۱۶ ) نېټې ( ۸ ) نمبر پروتوکول کې تصوئیب شوي.

**ذاهد الله سیدي**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رئیس